

اروانباد ډاکټر حنیف بکتاش

# اروانباد ډاکټر حنیف بکتاش د پښتو ادب نوښتګر، انځورګر او پر ښکلا مین شاعر

زموږ په ادب پالونکي هیواد کې د پیړیو پیړیو راهیسې مخکښو، نامتو او لویو لیکوالو، ادبي او فرهنګي شخصیتونو او شاعرانو د نوښتګرو اندونو، پوهې، قلم، ادب او علم په وسیله د هیواد د عیني او ریښتیني حوادثو او پیښو په اړه داسې لیکنې او څیړنې کړي دي، چې د دوی مقام د سیاست او ادب په تاریخ کې څرګند او د درناوي وړ ځای لري. دغو اتلانو هم د تورې او هم د قلم په وسیله د عمل په ډګر کې د خپلو ادبي او فرهنګي هلو ځلو تر څنګ د هیواد د

خپلواکۍ، آزادۍ او دموکراسۍ په ګټلو کې فعاله ونډه تر سره کړې ده. له امیر کروړجهان پهلوان نه نیولې تر شیرشاه سوري، بایزید روښان، خوشحال خان خټک، میرویس نیکه او لوی احمدشاه بابا پورې ټول د تورې او قلم، پوهې اوتدبیر اتلان تیر شوي دي. دوی ټولو هڅه کړې ده چې هیواد د ناپوهې، نادانې، فقر، ظلم، خپلمخی (استبداد)، زورواکۍ او فساد د منګلو څخه وژغوري.
زموږ د هیواد زیاترو لیکوالو، ادیبانو او شاعرانو د خپل توان او استعداد سره سم د ټولنې ستونزې، خپګان، نهیلې، عیني پیښې، حوادث په ډیر واقعبینانه توګه د شخصي ملاحظاتو او تعصباتو او احساساتو نه پرته لیکلي دي، چې د دوی دا ارزشتمن کار زموږ د هیواد اوسني او راتلونکو نسلونو ته یو لوی علمي، سیاسي، ملي، ادبي او فرهنګي خدمت ګڼل کیږي. زموږ د هیواد زیاترو لیکوالو او شاعرانو، ادیبانو او فرهنګیانو د پښتو معاصر ادب په تاریخ کې د ډیرو سترو اثارو او شعري ارزښتونو د هستونو څښتنان دي، چې زموږ اوسني او راتلونکي نسلونه ته د میراث په توګه دا اثار یوه ستره شتمنې او پانګه ده. دا اثار هم معنوي ارزښت لري او هم شعري او ادبي جوهر لري.

یو له دغو لیکوالو او شاعرانو له ډلې څخه، سیاست پوه، تاریخ پوه، ادب پوه، ژمن، وتلې، شاعر اروانباد ډاکتر حنیف بکتاش دی، چې د خپل قلم، اندو پوهې له لارې یې زموږ د پښتو ادب ګلبڼ ښیرازه، سمسور، او رنګین ساتلې دی.
ډاکتر حنیف بکتاش زموږ په هیواد کې یو پیژندل شوی، مخور لیکوال او شاعر و، چې په (۱۳۴۱) لمریز کال کې د (وردګ) ولایت په میدان ښار کې زیږدلی دی. ده خپلې لومړنې زده کړې په مزارشریف، میدان ښار، قندهار، هلمند او نورې زده کړې یې د کابل د حبیبې په لیسه کې پای ته رسولي دي. وروسته یې په مسکو کې د نړۍ په معاصر تاریخ کې د ډاکترۍ دیپلوم ترلاسه کړې دی.

د یادونې وړ ګڼم که چیرې د ده شعرونه په غور سره ولولو، نو دا څرګندیږي چې دی د ځانګړي هنري، ادبي او علمي سبک خاوند شخصیت و ، او د ده شعرونه د ده د شاعرانه او هنري تخیل، ځپانده، روښانه او نوښتګر فکر او آزموینې زیږنده دي.

- ښاغلي اکادمیسین سلیمان لایق چې زموږ د هیواد یو وتلې، نامتو او انقلابي لیکوال، شاعر او ادیب دی، د ارواښاد ډاکتر حنیف بکتاش د هغې ټولګې په تړاو چې په نامه دې (کله چې لمر دخدای آیتونه لولي) یادیږي داسې لیکلي دي:

((.... د هنرمن سبک ځانګړی او د ده په ذات پورې تړلی وي. زما خپل نظر دا دی چې په شاعرانو کې د سبکونو توپیر کټ مټ هغسې دی لکه چې د دوی په ښو ، آوازونو او د ژوند په ځانګړیو تګ توګو کې لیدل کیږي. د (لون ګیزس ) دغه وجیزه د سبک په پیژندنه کې ډیره ژوره ده چې وایي : ((د هر چا سبک پخپله هغه شخص دی.

همدا راز د بکتاش سبک یوائې په ده پورې ځانګړی دی کوم چې په دې سریځه کې په بشپړ ډول معرفی شوی دی...))
او په بل ځای کې وایي:
((.... د بکتاش د دغې ټولګې زیاتره شعرونه ښکلاییزو ځانګړونو، انساني مفکورو او د وطن مینې ته ځانګړي شوي دي. او د ده لوی کمال دا دی چې دی په خپلو هستونو کې تغزلي ښکلا او رزمي هیجان داسې سره اوبي چې د یوه پاخه شاعر پر زیږیدو شاهدي وایي.
بکتاش په شعر کې د تجدد او نوښت یو جدي پلوی دی. د شعر په دې دفتر کې د دودیزو شعرونو په نسبت نوي شعرونه هم د کیفیت او هم د کمیت ارجحیت لري. دی حتی په دودیزو تغزلي هستونو کې غزل، څلوریځې او د هغوی په نورو ډولونو کې د کلاسیکانو له منل شویو شعري کلمو څخه لکه: د وروځو توره، د ښو غشي، د مخ سپوږمۍ، زاهد، محتسب، خرابات، رند، او نورونه کار نه اخلي

او حتی هغه ترکیبونه، مصطلحات او مقولې نه کاروي چې دودیز شعر دخیالونو د انځورونو په جوړولو کې پیرې د ښکلا د ننداریینې لپاره کارول شوي دي لکه: د زلفو ماران، مرې سترګې، د نقطې غوندې تنګه خوله او د ویشته غوندې نرې ملا د ښځې لپاره منفی صفات چې په دودیز شعر کې یې نمونې کمې نه دي لکه: لولۍ، هرجایي، بیوفا، دروغجنه، مکاره، کوډګره، او غولونکې پخپل کلام کې نه کاروي. حتی په هغو هستونو کې چې په دودیزو قالبونو کې یې وړاندې کوي نوي او له زمان سره وړ اصطلاحات اختراع کوي، شعري روح وربخښي او په دې توګه دودیز شعر ته نوي تصویرونه ورننه باسي او نوښت ورکوي...))

زه د تیارې او سپیدې تر منځه
د نښت پرتګي لکه سات پاتې یم
پر شاوخوا مې دي د غم لښکرې
لکه بې وسه باچا مات پاتې یم
هره خوا ګورم دیوالونه ښکاري
لکه چې ګور کې کرایي ناست یم
روح رانه تښتي، زړه یاري نه کوي
آسمان ته لاس په ګدایي ناست یم
(د نښت پرتګي مخ ۲۲ )

او په بل ځای کې لایق صاحب وایي:
((....د بکتاش په ټولو آثارو کې، که هغه رومبني دي که وروستني، زه داسې یو څه نه وینم چې له مجرد شعر سره (شعر د شعر لپاره) د ده فکري اړیکه وښیي.

د ده د شعر دغه دفتر او ټول نور سره او ناسره اثار د ژوند او انسان په باره کې لیکل شوي او په مینې، مبارزې، هوډونو او ارمانونو ډک شوي دي:

۱. دا زما د کلي د بزګر لاسونه چا ترلي؟

پردې ويالې کومه داړه راغلې؟

چې په لښتيوکې مسکا نه خوځي

او په پټيو کې،

د مينې پر ځای

فصل اغزي زېږوي !

زمانه ولې داسې شنډه ښکاري؟

مينې کې ولې اعتماد مړ شوی؟

هنداره ولې تصويرنه شي ښودی؟

سبا کې ولې رڼا نه بهيږي

آسمانه ړوند يې،

ولې نه نړيږې؟ !

شړلې مسکا مخ ۲۱ ))

د لايق صاحب د ليکنې پر استناد په رښتيا سره چې د حنيف بکتاش په شعرونو کې هغه ترکيبي عناصر لکه : احساس، عاطفه، وزن، کلام او داسې نور ژبني ترکيبونه په داسې فورم او شکل کې ترتيب شوي دي، چې د ده د شعر معنا، مفهوم، سکالو (موضوع ) او پيغام په ډير هنرمندانه او ظريفانه ډول بيانوي، چې لوستونکي او اوريدونکي يې په خوند، ننداره او اوريدلو نه مړيږي.

- دا پر هیواد مین لیکوال او شاعر په تنکۍ ځوانۍ کې شعر و ادب ته مخه کړې هغه ذاتي او فطري استعداد او ذکاوت چې ده درلود، دی دې ته وهڅیدو چې په (۱۳۵۴) لمریز کال کې د افغانستان په کچه دیو مخکښ او نوښتګر شاعر په توګه په یوه ادبي کانکور کې د شعر جایزه وګټي. د ده په سل ګونو لیکنې او څیړنې د هیواد په رسنیو کې خپرې شوي دي. ده نه یوازې په پښتو ژبه بلکې په دري – فارسي ژبې هم لیکنې کړې دي.

- زمونږ د پښتو ژبې او ادب نومیالي لیکوال، رسنوال او تکړه وینا وال استاد پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار په خپله یوه لیکنه کې د ارواښاد حنیف بکتاش په اړه داسې کښلي دي:

((ځوانیمرګ بکتاش
د یادونو یو تلپاتې څپرکی

په هېواد کې د جمهوري اوښتون دویم پسرلی وو د زینب سینما په تالار کې د موروړځ نمانځل کېده او ( مېرمن زینب داود ) هغو شاعرانو ته جایزې وروبښلې چې اړونده یې سیالي ګټلې وه.
هسې خو به د هر یوه ګټونکي له نوم اخېستنې او ستېج ته له بلنې سره، اوږدې اوږدې چکچکې کېدلې، خو کله چې ویاند په ډېر شورو ولوله انګازه کړه:
اوس به یوه تنکي ځوان شاعر ((حنیف بکتاش)) ته بلنه ورکړو چې ستېج ته راشي او خپله جایزه تر لاسه کړي!
له پرلپسې لاس پړکاوو او شورو هاهاوو سره د نندارچیانو دا تلوسه هم هماغه شېبه پایته ورسېده چې یې ولیدل، سور سپین تنکی شاعر له خپل ښکلي شعر سره د هېواد د کومې ژبتوکمیزې ډلې استازي کوي!

د توركي توكمي مريي ((بكتاش)) نوم هغه شپې ورځې د ټولو كابل مېشتو په ذهنونو كې په دې راټوكېدلى وو چې له شاعرې ((بلخي رابعې)) سره يې د وينې او مينې داستان د ((نذير فلم)) له خوا تازه تر سېنمايي پردې رسېدلى وو. داسې چې تر اور ژبې شاعرې د هغه مريي ځار ځېلې ښېره ډېره ولوليزه او عاطفي ځلېدلې وه.

دا هم دومره هېښنده نه وه چې نقش يې هم يوه پښتون توكمي (شادان) او همدا رازيې بله مركزي ښېره اروابښاد داود فاراني ځلولې وه.

په دې توګه زموږ ځوانيمرګ شاعر له هماغو لومړيو څخه د ((باداري مينې)) پرځاى ((مريى بكتاش)) ځان ته د الهام سرچينه ټاكلې وه. هغه په ټوله رښتينولۍ د دويم-درېيم انقلابي پښت د يوه استازندويه او ژمندويه په توګه له تنكۍ ځوانۍ نه د شعرو رزم ګډ مورچل ته را دانګلي ول.

بې له دې يې چې څه ناڅه ارامه منځپاړكيزه آره ستر ګې وروبرېښوي، له زياركښ انسان سره يې د ژوند تر روستۍ سلګۍ خپل اندوژوند ټينګ و ترينګ ساتلي ول.

رزمیالي شاعر دا ستر ارمان هم له ځان سره تورو خاورو ته يووړ چې د لومړي پښت پر خلاف يوازې شعرو شاعري همرزمو ته د پزې پېزوان نه كړي ، بلكې خپله پوهنيزه ځانګه ((تاريخ)) هم ورسره ملګه كاندې او د ترشا پرېښي جنګ وجهل ځپلي پښتني-افغاني ټولنې د ژغورو روښانګرۍ لپاره يې پركار وا چوي.

له دې ناخبره چې د نورو زرګونو جنګيالو په څېر جلا وطنۍ ته اړېستل كېږي او ورسره ورسره د (بي بي سي ) سرخوړلې ويانديۍ ته !

ده وكړاى شول، په هغه لړكې د ((هېلمند)) په بدل نامه، د يوې ادبي-هوساييزې خپروني له لارې په زړه پورې پيغام د خپلو پرګنو تر غوږه ورسوي. خو له بده مرغه چې هغه اوريزه - رسنيزه كار و بوختيا وريورې اور شوه.

د هماغه اور لمبې اولوخړې وې چې دوياړلي ژوند و ژواك پېنځمه لسيزه يې ورباندې ويرژلې او زهر ژلې كړه، ترڅو يې په ځوانه ځوانۍ كې د مرګ كومې ته ور برابر كړ.

حنیف بکتاش تر پایه له خپلې خوږې خنداني لوښې سره سم هغه گرد رنځونه او دردونه په زړه کې پټ وساتل ، خو له شعري سېمبولونو یې پوره راجوتېده چې د ننه نړۍ یې تر ځومره فشار لاندې راوستې، د گل غوندې یې شونډې هماغسې خنداني، خو د غوټۍ په څېر یې زړه هغسې له وینو ډک وو.

د نا مهالي مرگ بلهاري شاعر یوه په زړه پورې لوښه دا وه چې تازه کښلی شعر به یې دوستانو ته اوراوه او ورسره ورسره به یې ترې د ارزوني غوښتنه هم کوله او په دې لړکې یې زه یې هم له دې لوروني بې برخې نه پاتېدم. سره له دې، به ما په ټوکو ټوکو کې ورغبرگوله چې دا یا هغه ټکی یې د کوم تاریخ وهلي زاړه بوت (( شعاري )) پېښې دي !
و به یې خندل، سم له سموني به یې قلم راواخېست، هغه ټکی به یې ور سهي کړ او هله به یې له سره را واوراوه.

هرگوره، دا به د چا په اروا کې هم نه گرځېده چې نا ببره مرگی به یو داسې خوږ ژبی ویناوال له ناپایه نا غوړېدلو انساني ارمانونو سره په ځوانه ځوانۍ کې له خپلو نیمه خوا پرگنو، اړوندانو او یارانو دوستانو څخه اخلي او یوې تلپاتې جلا وطنۍ ته به یې ورلېږدوي.
د تلپاتې حنیف بکتاش اروادې ښاده وي ! ))

د پوهاند استاد زیارصاحب د لیکنې پر استناد په رښتیا سره چې اروابناد ډاکتر حنیف بکتاش زموږ د هیواد هغه ادبي او فرهنگي شخصیت و، چې د ده په شعرونو کې معنوي ارزښتونه، د هیواد ، خلکو او ټولنې او ټولنیزو اړیکو په اړه د ده احساس، عواطف ، جذبې او ولولې، سپېڅلې هیلې او ارمانونه، اورنۍ مینه او افکار، له ورایه معلومېږي.

- ښاغلی صدیق کاوون توفاني ، چې زموږ د هیواد په ادبي، فرهنگي او سیاسي ډگر کې یو پیاوړې، وتلې او پېژندل شوې لیکوال، شاعر، ادبي او فرهنگي

شخصیت دی ، په‌خپله یوه‌لیکنه‌کې د اروابناد حنیف بکتاش د ادبي او فرهنګي شخصیت په‌اړه داسې کښلې دي:

((.... اروابناد حنیف بکتاش زموږ د سرګردانه او لالهانده نسل د رزمونو او سنګرونو شاعر ، د ماتو او بریو ، غمونو او خوښیو یو زړور او آګاه راوي و. یوازې راوي نه ، بلکې پخپله هم د زیار ایستونکي انسان د مبارزې د سرې لارې نه ستړی کېدونکی لاروی و. هغه د خپل لنډ خو ویاړلي ژوند زیاته برخه د ستم او استبداد ، زورواکۍ او زرپرستۍ ، ناپوهۍ او جهالت پرضد د مبارزې سپېڅلې چارې ته وقف کړې وه.
د خپلې تنکۍ ځوانۍ په کلونو کې د پښتو ادب پر آسمان وځلېد ، پلوشو یې ډېر ذهنونه روښانه او ډېر فکرونه تازه کړل. شعر یې ښکلی شو ، له نوښتونو ډک شو او په هماغه‌کچه چې د عمر په‌لحاظ پخېده شعر یې هم پوخ ، رنګین او صیقل شو.
د پښتو آزاد شعر او په ځانګړې ډول «سپین شعر» په بڼ کې یې داسې ګلبوټې وکرل چې تر ډېرو وختونو پورې به د ښکلا او نوښت وږمې خوروي او زړونو ته به تازه ګي وربښي.
حنیف بکتاش تر هرڅه د مخه په خپل شعر کې خپل ځان موندلی و ، خپل چاپېریال او خپله ټولنه یې موندلې وه. خپل او د خپلې ټولنې غمونه او دردونه یې موندلې وو نو ځکه خو یې په هر شعر کې د ده او د ده د ټولنې د ژوندانه انعکاس وینو.
زه د بکتاش په شعر کې د ده د ژوندانه د زخمي شیبو غبرګون په ډاګه وینم. زه دا هم وینم چې لکه د یوه ماهر انځورګر په شان یې د خپل ژوبل احساس له هرې شیبې څخه یوه رنګینه تابلو جوړه کړېده چې ډېر څه د ویلو او احساسولو لپاره لري. موږ باید د هغه د شعر هرې تابلو ته ځیر شو ، په دقت یې وګورو او ولولو ، ترڅو وپوهېږو چې دغه زرینفکره انځورګر موږ ته د کوم پیغام لېږدول غواړي... ))

د کاوون صاحب د لیکنې پر استناد، اروانښاد حنیف بکتاش هغه هوډمن او با احساسه شاعر او ادیب و، چې په خپلو شعرونو کې یې د خپلې ټولنې د خلکو د زړنو غمونه او دردونه، د کونډې، رنډې او یتیمانو سره خواخوږي، د پښتو، پښتونولي او پښتو ژبې سره چې د انساني، اخلاقي، علمي، اسلامي، ملي او پښتني اوصافو او فضایلو نه ډکه ژبه ده پاکه او سپیڅلې مینه د یو مقدس ارمان، موخه او مقصد په توګه په ډیرو ښکلو افکارو، هر اړخیزو او جامع انځورونو، خیالونو او سمبولونو کې په ډیر ظریفانه او هنرمندانه ډول ترسیم کړي دي، چې د ده دا هنري او ادبي هلې ځلې او خدمتونه د خورا ستاینې او قدر وړ دي. د بیلګې په توګه د ده دا بیتونه ګورو:

## شړلې مسکا

وطن مې،
لکه د وینو غوټۍ
لکه د اوښکو څپه
لکه له شونډو پر شا شوې مسکا
لکه له زړه نه راوتلې سلګۍ
د ویر پر پانه باندې ورژېده
وطن مې،
لکه زړه سندره
لکه د کلي چنار
لکه سرکښه مجنون
لکه عیسی غوندې د مینې مفهوم
لکه بودا غوندې ترتله مضمون
پر هره کانه، کانه
د یاد پر پانه، پانه
ولیکل شو.

...

او یا وایي:

## بې تقدیره شېبې

خدایه !
دا ستا د آیتونو تفسیر څنګه کېږي ؟ !
آسمانه ستا په وېش کې
دا زموږ قسمت څنګه دی ؟
تن مې ،
د کلي د سهار د سپینو پرخو په څېر
له پرهرونو ډک دی
زړه مې ،
د غره په څېرمه
له ماتمونو ډک دی
سینه د دود له تنفسه ستړې
باغ مې تېپي ، تېپي دی
چینه کې سا وچه ده
او د پسرلي په هدیره کې شمال
پر وچو څانګو باندې
لوبې کوي.

...

او یا وایي:

## کابله مه ژاړه ته

ما درته ډېر ژړلي
کابله وخانده بیا

کابله وغوړېږه
دريڅه پرانيزه د باغ پر لوري
چې زما د زړه ، دا نړېدلي نړۍ
يو ځلي بيا د سرو ګلانو له عطرو ډکه شي
کابله مه ژاړه ته
کابله وخانده بيا
د قرآن غله له کابله وزه
دا زما د اوښکو له ساحله وزه
زموږ د سرونو د کرلو شيبو
له دي حاصله وزه
دا زما د زړه له کوڅې
زما د فکرونو له منزله وزه
د قرآن غله له کابله وزه
کابله مه ژاړه ته
کابله وخانده بيا
کابله لوړ شه
کابله نر شه
کابله ستر شه
کابله ودروه
يو ځلي ودروه
دا زموږ د اوښکو سفر
...

او يا وايي:

## د غوړېدلو هيله

که ځمکه نه غوړېږي
که په لښتي کې مينه نه بهيږي

که په پټي کې د غنمو پرځای
مونږه سرونه کرو
که په ځنګله کې وږمه نه چلیږي
او د سپېدې پرلمن
د لمر سپېڅلې، وړانګې
نه ځلیږي
د ماشومانو پر تنکیو شونډو
کله به وغوړېږي
د خوشحالیو مسکا
او د نیالګیو په رګونوکې به
کله جاري شي
د ژوندانه سندرې؟!
...

او یا وایي:

زه د تیارې او د سپېدې ترمنځه
د نښت پرڅکې لکه سات پاتې یم
پر شاو خوامې دي د غم لښکرې
لکه بې وسه باچا مات پاتې یم
هره خوا ګورم دیوالونه ښکاري
لکه چې ګورکې کړایي ناست یمه
روح رانه تښتي ، زړه یاري نه کوي
آسمان ته لاس په ګدایي ناست یمه
...

او یا وایي:

د ما زدیګر لمنه سره په وینو
دا زمونږ د لمر جنازه چېرې وړې؟
منګې مات شوي د ګودر پرغاړه

د دې ګودر جنازه چېرې وړې؟
باغ مو زخمي شو د هوس پر تبر
د شنو فصلونو هديره چېرې ده ؟
مينه له زړونو تښتېدلې چيرته ؟
زموږ د يادونو هديره چېرې ده ؟
...

او يا وايي:

يې نجلۍ ، يې نجلۍ !
سترګې دې پرانيزه ، د ناز په وږمو
سر دې کړه پورته
د آسمان لوري ته
چې په آسمان کې ، دريڅه پرانيستې
څه ښايسته ، په جنتي رنګونو
که موږ له دغې دريڅې نه تېر شوو
زموږ د ايمان ،
او د ښکلا ، د باغ ګلونه به بيا
وغوړېږي
ګوره چې دغه ، شېبه تېره نه شي
ګوره چې تېره نه شي !
...

- ښاغلي ډاکتر صاحب ببرک ارغند چې يو نامتو ژورناليست، نوښتګر او مخکښ داستان ليکونکي دی، په خپله يوه ليکنه کې د ارواښاد حنيف بکتاش د علمي، ادبي شخصيت په اړه داسې وايي:

((....حنيف بکتاش با عشق زيست، با نقد پويا شد و با انساندوستی جاودانه گشت

حنیف بکتاش شاعر بلند آوازه در سال (1961) در میدان شهرِ ولایت وردک در یک خانوادهٔ روشنفکر به دنیا آمد. تحصیلات ابتدایی خویش را به ترتیب در شهر های مزار شریف ، میدان شهر ، کندهار و هلمند ادامه داد و در سال (1978) از لیسهٔ حبیبیه فارغ شد. انستیتوتِ پیداکوژی را به پایان رسانید و سند دوکتورایش را در رشته تاریخ از اتحاد شوروی آن زمان بدست آورد. زبانهای پشتو، فارسی دری، روسی و انگلیسی را میدانست ویکی از چهره های اثرگذار در مبارزات سیاسی جوانان افغانستان بشمار میرفت. از این نویسنده و شاعر فرهیخته آثاری چون «یادداشتها و نوشته ها» ، مجموعهٔ «دځنګله سترګوکې» و مجموعه های «کله چې لمرد خدای ایتونه لولي» ، «شعری که خنجر است» و «صدا» به زبانهای پشتو و دری زینت چاپ یافته اند.
بکتاش شاعری عدالتخواه و مبارز بود و تا پایان عمرش بر سرِ عقایدش استوار ماند ؛ اما هیچگاهی ادبیات را در خدمت ایدیالوژی قرار نداد. نه فرمایش گرفت و نه فرمایش داد. صمیمی، متواضع و دانشمند بود. باورهای حاکم در کشورش را همواره با دید انتقادی مینگریست و علیه سرکوب سیاسی و فقر و بیعدالتی به پا میایستاد. دوست محرومان و بینوایان بود و آنانی را که لب از نکوهش ظالمین فرو میبستند مورد نقد و انتقاد قرار میداد. این شاعر گرانمایه عمرِ پُربار خویش را در راهِ خدمت به مردم به ویژه محرومان به پایان برد. بکتاش به این باور بود که ضمانتِ پایدار ماندن هر جامعه بر میگردد به باورِ عمیق مردمش به عدالت اجتماعی و احترام به فضیلت و دانایی و عقل و خرد و تزکیه روح و جسم افراد آن جامعه. این شاعر متفکر و دارای اندیشه های انسانی با شعر ، عشق ، ایستاده گی و مقاومت زیست و با نقد پویا شد و با انساندوستی در قلب دوستدارانش جاودانه گردید. شعر بکتاش بیان اندیشه ها و آرمانهای والای انسانیست که با هنرمندی و عاشقانه سروده شده اند. او در اشعارش آشفته گی اجتماع و انسانهای از خود بیگانه شده وسرگشته گی انسان معاصر کشورش را در دایرهٔ افکار و اندیشه های خودش و مناسبات اجتماعی حاکم با خلاقیت هنری بیان میدارد. این شاعر آزاده ، آگاه و پر شور، عاشق آزادی ، زیبایی و مورد احترام و بزرگداشت مجامع فرهنگی و سیاسی کشور بوده و است. جوانان از کارکردهایش

اثر میپذیرند . مجموعه های « دځنګله سترګوکې » و « کله چی لمر د خدای ایتونه لولي» به شخصیت فرهنګی و ادبی این شاعر ورجاوند سیمای خاص و برازنده یی بخشیده اند که قابل دقت و درنګ میباشد . نبود بکتاش ، یک ضایعه است... ))

په رښتیا سره اروابناد بکتاش هغه با احساسه لیکوال او شاعر و، چې د خپلو هیوادوالو د دردونو، غمونو، غربت، بیوسي او بې وزلي سره دردمن او غمجن و. ده د وطن او هیوا دوالو سره، د ادب پالو، هنر پالو او فرهنګ پالو انسانانو سره ځانګړې مینه لرله . د آزادۍ، خپلواکۍ او دموکراسۍ سره، د پښتون او پښتونولي سره، د انسان او انساني کرامت سره ژوره مینه او اخلاص درلود .

- ښاغلی افضل ټکور چې زموږ د هیواد خوږ ژبې شاعر، تکړه او پیژندل شوی لیکوال دی، د اروابناد بکتاش صاحب سره د خپلې پیژنګلوی په اړه په خپله یوه لیکنه کې داسې کښلي دي:

((.... جدايي د اشنايانو هردم کاندي
په رحمان باندې د تورو ګوزارونه
د انجنیر صاحب مسعود په قلم او اند یې رحمتونه شه، زه خو کله داسې انګیرم
که دی نه وي نو پښتو هغسې بوله چې وايي:

چايي پلو له مخ وانخیست
پښتو لا هسې بکره پرته ده

او بیا په دې جلا وطنی خو هسې هم د انجنیر صاحب علمي او ادبي هلی ځلی د ډیرې ستاینې جوګه دي ، پر یوځان دومره علمي او ادبي کارونه کوي چې ډیر یې نه شي کولی. دوه درې ورځې مخکې یې راته وویل چې دپښتو ژبې د ښه شاعر او لیکوال اروابناد حنیف بکتاش په اړه څه ورته ولیکم. که رښتیا وواېم ځان راته لږ څه پیکه ښکاره شو ځکه چې پر بکتاش خو په کار وو چې په هماغه توده

کې چې هغه له موږ نه بېل شو او خپل عمر يې دوستانو ته پرېښود يو څه لیکلي وای او د هغه روح ته مې د عقیدت ګلونه وړاندې کړي وای ،خو هغه د حمزه بابا خبره ده چې وایي:

واعظه ته چې ما بیکار بولې
دا بیکاري جوړی څه کار نه دی

نو په بې کاری او تمبلی کې مې د هغه په مړینه که هر څومره او ښکې توی کړلې نو زه فکر کوم چې هغه حق ما نه دی ادا کړی چې د اروا ښاد بکتاش پر ما وو، ځکه زه او بکتاش تقریبا او که رښتیا ووایم نو ټیک همزولي یو زه او هغه دواړه په کابل کې په شپیتمو کلونو کې اشنا شولو دا داسې کلونه وو چې په کابل او په ټول هیواد لکه د اوس غونډې دجګړی اورونه بل وو ،سری لښکرې وی سره شعرونه وو، او سره شعارونه ... مرحوم بکتاش د واکمن ګوند غړی وو او زه بر عکس، هغه یوه ادبي، سیاسي لاره لرله او ما ادبي لاره، خو زه او دی ډیر سره نژدی وو، زما او د ده د نژدیوالي علت یو ګډ ټکی وو، او هغه ګډ ټکی شاعری وه، ما او ده دواړو له شعر سره مینه لرله او دغې مینې موږ یو د بل ملګري کړي وو، مشاعرو او غونډو کې به مو که کله د حاکم ګوند یا ډلی ټپلی پر ضد هم څه ویل نو دی به موسکی شو او د تاید سر به یې وخوځولو، دا د ده یوه لویه ځانګړنه وه چې دټولو لیکوالو او فرهنګیانو سره یې ډیره مینه او راشه درشه کوله، هغه ته ادبي او فرهنګي راشه درشه له سیاسي هغه ډیر ګران وو.
هغه له مانه لږ څه وروسته له کابله پښتې سپکی کړلی، په مسکو کې بیا سره یو ځای وو، خو زه هلته ډیر پاتی شوم او دی لندن ته راکډه شو،کلونه وروسته په لندن کې سره یو ځای شولو هر وخت چې به مو ولیدلو، نو د یو بل په لیده به نه مړیدلو، او ما ته به یې وویل: مړه، ته خو یو غزل راته ووایه ډیر وخت کیږي چې شعر مو نه دی لیکلي ،کله کله به ما ورته یو نیم غزل او ده به راته خپل ازاد شعر زمزمه کړ، زما په اند اروا ښاد بکتاش زموږ د هیواد د معاصر شعري بهیر له مخکښو څیرو څخه دی په ازاد او سپین شعر کې خو دی ډیر برلاسی وو، شعر

يې د وطن له مينې نه د خپلو خلکو سره له مينې نه ډک وو ، او دغه مينه ده چې د هغه نوم او ياد به د تل لپاره ژوندی ساتي.
روح دې ښاد او ياد يې تل ژوندی اوسي
تياری د قبر ورته رڼا شه
اوس همدومره
په مينه...))

ارواښاد حنيف بکتاش نه يوازې چې يو تکړه اديب او شاعر و ، ده په سياست او ټولنيزو مسايلو کې هم فعاله ونډه درلوده. په ټولنيزو او سياسي فعاليتونو او کارونو کې په ځانګړې توګه د ځوانانو په ديموکراتيک سازمان کې د ده واقعي او ريښتيني افکار عواطف او احساسات چې په ډير مبتکرانه ډول ځوانانو ته بيان شوي دي او د ځوانانو د شعور او افکارو په راويښولو کې او د دوی د ملي احساساتو او جذباتو په راپارولو کې يې با ارزښته نقش لوبولی دی د خورا ستايني او قدر وړ دي.
- ښاغلی داکتر اسد محسن زاده چې زموږ د هيواد يو تکړه ليکوال، سياسي او ټولنيز شخصيت دی او د ځوانانو په ديموکراتيک سازمان کې د نړيوال اړيکو د څانګې مسوول و ، د ارواښاد بکتاش صاحب سره د خپلې پيژندګلوې په اړه په خپله يوه ليکنه کې داسې کښلي دي :

((.... زمانيکه من در سازمان ديموکراتيک جوانان افغانستان مصروف وظايف بودم، با زنده ياد داکتر حنيف بکتاش که جوان حدود بيست ساله ای بود آشنا شدم. وی چون خليل خسرو ، يحيی و عتيق رحيمی هميش کتابی زيربغل داشت. اهل کتاب و مطالعه بود . برای همين هم شده بود رئيس و يا مسوول شعبه کارسياسی و توده ای س د ج ا. به دری و پشتو شعر می سرود و با آنکه از نظر سن جوان بود شعرهايش شيرين و پيام صلح ، عشق ، پيشرفت ، شور و مقاومت را حمل ميکرد. بيشتر رهنمود ، مضمون و پيام مينوشت. دستمايه تلاش های سياسی و فرهنگی اش پيهم در رسانه های سازمان نشر ميشد. گاهی به شکل

رهنمود شعبه کار سیاسی و توده ای و زمانی به گونه مقاله و دیدگاه های شخصی.

با آنکه در یک عمارت و منزل با هم کارمیکردیم گاه گاهی چنین رخ میداد که ماه ها همدیگر را نمی دیدیم. من درخارج و او در ولایات. چند باری چنین رخداد که همدیگر را پس از چند ماهی در یکی از ولایات ببینیم و از کار و روزگار مان باهم درد دل نماییم. من با هیات ها و ژورنالیستان خارجی و او با گروه هنری و یا تیم کاری سیاسی - تبلیغی اش.

وقتی درفش جوانان در آسمان رسانه های کشور درخشیدن گرفت از همان روزهای نخست هر دو با آن همکار و یاور شدیم. وی درباره مسایل فرهنگی و سیاسی به ویژه درباره کار سیاسی توده ای در میان جوانان مینوشت من در کنار مسایل سیاسی و فرهنگی به مسایل بین المللی و جنبش جهانی دانشجویان و جوانان میپرداختم. در این سالها به همدمی با مردم و جوانان توجه زیادی شده و تلاش های فرهنگی جوانان با ستایش و جانبداری فراوانی روبرو میشد. آفریده های فرهنگی و ادبی شاعران و نویسنده گان جوان مورد حمایت دولت ، حزب و سازمان قرارداشت. دراین سالها نخستین مجموعه شعری حنیف بکتاش اقبال چاپ یافت و مورد ستایش و آزرم قرارگرفت.

حنبف با اخلاص مینوشت و راه رشد و پویایی می پیمود و مسوولیت های بزرگتر سیاسی را به گردن گرفت . درچنین روزگاری پرجنبش و تلاش راه مان از هم جدا شد. من رفتم به کار سابقه ام و بعداش به کار دانشگاهی ، سربازی و روزنامه نگاری .

***

وقتی در جولای (۲۰۰۵ ) ترسایی با وی درلندن دیدم دیگر بیش از یکنیم دهه از آخرین دیدارمان گذشته بود . دراین سالها او داده های بهتری و پرمایه تری را به جامعه علمی و ادبی کشور هدیه کرده بود.

چندی پستر از بیماری اش اگاه شدم. برایش آرزوی جانجوری و تندرستی کردم.

وقتی دراکتوبر سال (۲۰۱۲ ) ترسایی « بازگشت دوباره به زنده گی » را به دوستان

و همزمانش نوید داد سخت خوشنود شده برایش این برگشت را مبارک گفتم.
دریغ که این برگشت آماده گی تازه برای سفر برگشت ناپذیر و همیشه گی بود .

حنیف انسان نیکومنش و نیکو کردار بود و سزاوار دوستی و محبت. بر آورد و ارزشیابی آفرینش های ادبی و نوشته هایش نشانده اندیشه های پیشروانه آن محیط سیاسی ای بود که وی در آن میزیست و به تماشای وجود بیرون میپرداخت. جهان مبارزه ، بیدار سازی انسان ، کار و آفرینش و راز و پیوند های بیشمار !
یادش گرامی باد !

په رښتيا سره چې اروانباد داکتر حنيف بکتاش د خپلو علمي، هنري او ادبي هلو ځلو او خدمتونو په وسيله د پښتو ادب ډيوې بلې ساتلي وې. د ده په شعرونو کې هنري رنګ، خوند او ښکلا له ورايه معلوميږي . د د ه ملي ، وطني او انساني اهداف او احساسات د ځوانانو په ذهنونو او زړونو کې ژوندي پاتې دي او د ده شخصيت ته د ادب او سياست مينه وال په تيرا بيا ځوانان په ډيره درنه سترګه ګوري.

- ښاغلی زلمی نصرت چې زموږ د هيواد يو تکړه ليکوال، سياسي او ټولنيز شخصيت دی، د اروانباد بکتاش صاحب سره د خپلې پيژندګلوې په اړه په خپله يوه ليکنه کې داسې کښلي دي:

((.... شناختم با زنده یاد داکتر حنیف بکتاش بر میگردد به سال های (1358 ) خورشیدی زمانیکه در بخش کار با جوانان مصروف شدم. او یکی از چهره های مبارز رسالتمند و عدالتخوا ویکی از پیشکسوتان ممتاز جنبش جوانان دیموکرات کشور بود . وی در تربیه جوانان با روحیه میهن دوستی ، تشویق جوانان به کار های هنری و فرهنگی و کار دوستی و اموزش ، صفا و صمیمیت استادانه برخورد می کرد . او در پهلوی شخصیت سیاسی، ادبی و فرهنگی و چهره زیبا شخصیت با وقار اجتماعی هم بود. در دوستی او یک نوع شور و یک

رنگی ، صفا و باور دیده میشد. داکتر حنیف بکتاش یک انسان جالب بو د و
کرکتر به خصوص خود را داشت. نماد از اعتماد بود. زندگی ساده را خوش داشت.
از خود نمایی بدش می آمد. هم چشمی با کرکتر و شانش بیگانه بود . اگر یکبار او
را میدیدی و با او هم صحبت میشدی ، هرگز نمیخواستی از او جدا شوی. او
میتوانست زود انسان را مجذوب خود بسازد . از صحبت با او هرگز خسته
نمیشدیم و از او فقط می آموختیم. اشعارش خوشم می اید. در اشعارش پیام به
نسل جوان و آینده سازان وطن وضاحت می یابد. او میگوید :

لاروبه لاره درنه ورکه نشي
بیا پر بیلارو باندي پل کې نږدي
نوي لار پرانیزه ، یو نوی فصل
نوي نبالګي ته اعتبار ورکړه
بیا د غوټۍ شونډو ته مینه ، مینه
بڼ ته شیمه د اقتدار ورکړه۰

زندگی با داکتر زبانشاس و تاریخدان کشور شاعر روینده و پیشرونده داکتر
بکتاش وفا نکرد و زود به جاودانگی پیوست. روحش شاد و یاد و خاطراتش
زنده و جاودان باد... ))

اروانباد داکتر حنیف بکتاش یو متواضع ، پاک او سپیڅلي انسان و، او د لوړو
اخلاقو او اوصافو شخصیت خاوند و . دی هغه پیژندل شوی، وطنپال او ځوان
شاعرو، چې د پښتو ادبیاتو د ودې ، پراختیا او پرمختګ لپاره یې ډیر اوچت
قدمونه پورته کړي دي ، زموږ د ادب مینه وال د ده ادبي او فرهنګي شخصیت ته
به ډیره درنه سترګه ګوري.

د اروانباد بکتاش صاحب چاپ شوي آثار دا دي:

- د ځنګله سترګو کې
- یاداشت ها و نوشته ها

- شعری که خنجر است
- صدا (د افغانستان د ځوانو شاعرانو بیلګې)
- کله چې لمر د خدای آیتونه لولي
او داسې یو شمیر نور آثار چې تر اوسه چاپ شوي نه دي...

اروانباد حنیف بکتاش د (۲۰۱۲) زیږدیز کال د اکتوبر پر څلورمه نیټه له دغې فاني نړۍ څخه د ابد لپاره سترګې پټې کړې.

اروا دې ښاده او ښېرازه وي.

## په ډیر درنښت او ادبي مینه : انجنیر عبدالقادر مسعود